# چا چې د دوه وو لورګانو سمه روزنه وکړه تر دې چې لويې شي، نو د قيامت په ورځ به زه اوهغه سره يو ځای يو» او خپلې ګوتې يې سره جوختې کړې

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «چا چې د دوه وو لورګانو سمه روزنه وکړه تر دې چې لويې شي، نو د قيامت په ورځ به زه اوهغه سره يو ځای يو» او خپلې ګوتې يې سره جوختې کړې.
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي چې: چا ته چې دوه لوڼې يا خويندې ورپه برخه شي او هغه يې داسې روزنه وکړي چې، لګښت، روزنه، او د خبر لارو ته لارښوونه او له بديو څخه ځان ژغورنه او داسې نور وروښيي تر دې چې سترې شي، نو د قيامت په ورځ به هغه او رسول الله صلی الله عليه وسلم سره لکه د دې دوو ګوتو په څېر يو ځای وي، او خپله مسواک او منځ ګوتې يې سره جوختې کړې.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3360

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee